# په ساینس او نړیوالو امورو کې دپګواش کنفرانسونه

*www.pugwash.org*



c/oAccademiadeiLincei
Via dellaLungara 10
I-00165 روم، ایټالیا
T: (+39) 06 687-8376
M: (+39) 333-456 6661
برېښنالیک: claudia@pugwash.org

7bis Avenue de la Paix, دویم پوړ
1202 جینیوا، سویزرلېنډ
T: (+41-22) 9073667
F: (+41-22) 9073669
M: (+41-79) 659-8186
برېښنالیک:sergey@pugwash.org

د ځمکني پوړ کور
63A Great Russell Street
لندن ,WC1B 3BJ بریتانیا
ګرځنده ټلیفون:7920-747560 (44+)
برېښنالیک: sandra@pugwash.org

1211 Connecticut Ave., NW, Rm. 828
واشنګټن، ډي سي. 20036
ټلیفون: 478-3440 (202-1+)
برېښنالیک: pugwashdc@aol.com

د مهربانۍ له مخې ځواب ورکړئ: **:د روم دفتر [ X ]** د جینیوا دفتر[ ] د لندن دفتر[ ] د واشنګټن ډي سي دفتر[ ]


## په کابل کې د پګواش غونډې راپور

**۱۳ دسمبر، ۲۰۱۶**

**پاولو کوټا راموسینو**

د ۲۰۱۶ کال د دسمبر په ۱۳ نېټه پګواش موسسې د کابل په انترکانتیننټل هوټل کې یوه غونډه تر سره کړه، چې د بېلابېلو اړخونو نه په کې شاوخوا ۴۰ سیاسي مشرانو ګډون وکړ (د ګډونوالو لست د همدې راپور په وروستی پاڼه کې کتلای شئ). د غونډې اصلي موخه په افغانستان کې د سولې پروسې په اړه د بېلابېلو نظرونو( اندونو) څېړل او د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د ترسره شوي بریالي تړون په رڼا کې د طالبانو سره د ورته احتمالي هوکړې ته رسېدل و، البته په دې ټوپیر سره چې حزب اسلامي د طالبانو په پرتله د هېواد په ډېرې سیمو واک نه درلود. د دې ترڅنګ په افغانستان کې د سولې په اړه د پګواش نړیوالي موسسې ۱۹ ماده ایزه طرحه هم د ګډونوالو د بحث یوه مهمه برخه وه .د پګواش د سولې طرحه یوه کاري او عملي طرحه ده، چې لا ډېر وضاحت ته اړتیا لري، چې په راتلونکې کې به دغه پلان په افغانستان کې د بېلابېلو سیاسي مشرانو او طالبانو د نظرونو په مرسته لا پسې غني کړای شي.

ټولې خواوې په دې ټینګار کوي، چې افغانان په خپل هېواد کې د تلپاتې سولې غوښتونکي دي، دا ځکه چې په افغانستان کې د ۴۰ کلنې جګړې، بهرنی لاسوهنې او په دغه هېواد باندې د بېلابېلو بهرنیو قواو له خوا تپل شوي جنګ سولې ته یوه هیله را توکولې.د دوی په آند د اوږدې مودې لپاره د بهرنیو قواو شتون د دغه هېواد لپاره نه ګټور او نه هم قانع کوونکی و او بهرني هېوادونه چې هرڅومره زر کېدای شي، له دې خاورې باید خپل ځواکونه وباسي. افغانان باید په راتلونکې کې له ټولو هېوادونو سره د یو سوله ییز چوکاټ په ترکیب کې همکاري وکړي. په افغان ټولنه کې سوله ، داقتصادي پرمختګ او د ټولنیز انکشاف بنسټیز

اصل دی .دوی زیاته کړه چی دابه ستره نیمګړتیا وي، چې د طالبانو څخه دې د سملاسي تسلمیدو غوښتنه وشي. په تېر وخت کې افغان حکومت څو ځله په طالبانو غږ کړی و ،چې خپلې وسلې په ځمکه کېږدي، په داسی حال کې چې طالبان یوازې له امریکایانو سره د خبرو غوښتونکي وو. په هر حال ، په واک کې د طالبانو ګډون د افغان ناورین د حل یوه مهمه برخه ده او دا بین الافغاني خبرې اترې دي چې په یاده برخه کې به ګټورې تمامې شي . په یاده ناسته کې یادونه وشوه ،چې د افغانستان حکومت هم باید اړ کړای شي، تر څو په دې برخه کې ځانګړي تنزل ته چمتو اوسي. په دې ناسته کې د افغان حکومت دیالوګ هم په څرګند ډول مهم او ګټور دی.

دیو ګډونوال په وینا، د حکومت له مرستی پرته به د سولې خبرې اترې هېڅ پایلې ونه لري او دا هم وویل شول چې په بې پلوي ډول د حکومت له مرستې پرته هم د سولې هڅې ډېرې اړینې دي. د ځینو ګډونوالو په نظر د افغانستان حکومت دا مهال تر ډېره بریده په بهرنیو مرستو تکیه کوي، کوم چی ښايي د ډېرې مودې لپاره پایښت و نه کړي، ځکه نو له همدې امله غوره ګڼل کېږي، چې له طالبانو سره دې خبرو اترو ته لار ومونډل شي.  د یادونی وړ ده چې په دې غونډه کې د سولې پروسې سره د نړیوالې ټولنې مرستې اساسي اصل وګڼل شوې.

طالبان باید په ټوله کې تروریستان ونه ګڼل شي، بلکی دوی د افغاني ټولنې څخه یوه راټوکېدلې سیاسي برخه ده.  طالبانو څو ځلې صراحتاً ویلي چې دوی د سولې غوښتونکي دي او په واک کې شریکېدنه غواړي اوپه عین حال کې د قدرت انحصار هم ردوي . دوی ټولو بشري او د ښځو حقوقو ته ژمن دي، چی دا یې تر ټولو مثبت اقدام ګڼل کېږي ، خو دا چی په قدرت کې د شریکېدنې میکانیزم څه ډول تعریف شي، یوه ځانګړې پوهاوي ته اړتیا ده، چې باید ورغول شي. دا چی د سولې په دې ۱۹ ماده یزه طرحه کې د موقت حکومت یادونه شوې ، نو د بېلابېلو لاملونو له امله دا خبره د ډېری ګډونوالو د پوښتنې لاندې راغله. آیا د لنډ مهالي اداري  مانا همدا ده، چې موږ دې له صفر څخه پیل وکړو ؟  آیا دا به منونکې لار وي ؟ د لنډ مهالي حکومت موده (چې د نویو ټولټاکنو نه مخکې به ترسره کېږي )  هم یوه پوښتنه را پورته کوي. او بله مهمه پوښتنه داده، چې د اوسني حکومت دریځ به څه ډول وي ؟ او آیاد د لنډ مهالي حکومت په چوکاټ کې مونږ یوازی دواړه اړخونه ( طالبان او حکومت ) د غور لاندې نیسو؟ د لنډ مهالي حکومت پر ځای یو ګډونوال د "ملی اشتراکي حکومت" غوښتنه وکړه، خو ددغې اصطلاح دقیق تعریف ته اړتیا ده، چی په سمه توګه باید تشریح کړای شي.

د هر ګډونوال له انده اوربند یو له مهمو شرایطو څخه دی، چې د طالبانو او نورو افغانو ډلو تر منځ دښمني د سیاسي رقابت په پدیده بدله کړي، کوم چې د سولې پر لور یو بنسټیز ګام بلل

کېږي. له اور بند نه وروسته به طالبان په زور دې ته نه اړ کېږي چې د دوی تر کنټرول لاندې سیمې دې له هغوی څخه واخیستل شي ، خو ډېری ګډونوالو په دی اړه یو ځانګړی دریځ درلود، چی ګواکې دغه کار به د بېلابېلو ډلو په لاس د افغانستان جغرافیه په لوی لاس وېش او تجزیی ته برابره کړي. د افغان ځمکې بشپړتیا یو ګډ هدف دی، چې د ټولو د توافق له مخې باید په هېڅ صورت په خطر کی وانچول شي. افغانستان کې د یووالي راوستل او په ځانګړې توګه په دې هېواد کې د قومي درزونو مخنیوی کول هغه څه دي، چی د ټولو افغانانو په سترو لومړیتوبونو کی شمېرل کېږي. دټولو افغاني قومونو د حقوقو ساتل د سولې په برخه کې اساسي عنصر دی. دا هغه څه دي چی په یاده غونډه کې پرې خبرې وشوې.

د بېلابېلو جرګو د جوړولو د امکاناتو په اړه هم څو ځله یادونه شوې، خو سیمه ییزې او ملي لویې جرګې ته په کې لومړیتوب ورکړل شوی . ددې ترڅنګ د تقنیني لویې جرګې د جوړولو یادونه هم وشوه، کوم چې په اساسي قانون کې د احتمالي تغیر څخه بحث کوي او په ډېری برخو کې دا دطالبانو هیله هم ده .

طالبان باید یو سیاسي آدرس ولري، تر څو له دوی سره په اړیکو نیولو کې آسانتیا رامنځته شي او په عین حال کی دوی ته باید د آزاد تګ راتګ او له افغانانو سره د خبرو اترو زمینه هم برابره شي. د سولې په اړه دغه ۱۹ ماده یزه طرحه په عمومی ډول یو ښه میکانېزم وګڼل شو، کوم چې باید لا پسې واضح ، سم او تصحیح کړی شی . د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر د ۱۳ نېټې د غونډې ګډونوالو د سولې ددغه پلان او نظریاتو د لا څېړلو ملاتړ کوي. د سولې له خبرو اترو څخه د طالبانو ملاتړ هم یو له مهمو ټکو څخه دی، ځکه د دوی له خوا افغانستان کې د سولې په موخه حل لار لټول ډېر اړین او مهم دي، په غونډه کې دا هم وویل شول، چې په افغانستان کې د داعش د شتون په وړاندې د طالبانو مخالف دریځ ګټور او اغېزمن پریوځي او له همدې کبله طالبان باید په قانوني ډول یوه سیاسي ډله وپېژندل شي.